## د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو امارتي شرکت د اجرائیوي کمېټې غونډه ترسره شوه

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو امارتي شرکت اجرائیوي کمېټې غونډه د یاد شرکت د اجرائیوي رئیس محترم مولوي غلام‌الرحمن کظیم په مشرۍ، د اجرائیوي کمېټې د درنو غړو او د شرکت د مرکزي ریاستونو رئیسانو او آمرینو په ګډون د ریاست په مقر کې ترسره شوه.

د شرکت اجرائیوي رئیس، محترم مولوي غلام‌الرحمن کظیم په پیل کې د اوبو رسولو د خدمتونو د لا اغېزمن وړاندې کولو لپاره د نویو او عملي کېدونکو طرحو په اړه خبرې وکړې. او د ریاست‌الوزرا د اقتصادي معاونیت له محترم مقام څخه یې د پنجشیر له سیند څخه د اوبو د انتقال په برخه کې د هڅوی د سترو هڅو له امله مننه او قدرداني وکړه.

اجرائیوي رئیس د هېواد ښاریانو د څښاک پاکو او صحي اوبو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د اوبو رسولو شرکت د مهم رول یادونه وکړه او په کارونو کې یې د دقت، صداقت او د چارو د چټکولو ټینګار وکړ.

په دوام یې د اجرائیوي کمېټې درنو غړو د اجندا له مخې د موضوعاتو په اړه بحث او نظرونه تبادله کړل چې پکې لاندې موارد شامل وو: د کارکوونکو د دندو د لایحې تنظیم او معیاري کول، د طرحه شوو پلانونو مطابق د کړنو د تطبیق څرنګوالی، تدارکاتي ستونزې، په کابل ښار کې د فاضلابو د کلستر جوړونې د کار پیل، د ظرفیت لوړونې پروګرامونو ترسره کول، د مسلکي کسانو د ګمارنې بهیر ګړندي کول، مالي چارې او د اوبو رسولو شبکو تخنیکي او عملیاتي ستونزو ته رسېدنه.

په پای کې د یادې کمېټې له لوري هر اړخیزې پرېکړې ترسره شوې او د شرکت د رهبرۍ له لورې اړینې سپارښتنې وړاندې شوې.

# The Executive Committee Meeting of the Urban Water Supply and Sewage State-Owned Corporation Was Held

The Executive Committee meeting of the Urban Water Supply and Sewage State-Owned Corporation was convened at the Corporation headquarters under the chairmanship of the corporation's Executive Director, Mr. Mawlawi Ghulam Rahman Kazim, with the participation of esteemed committee members, as well as the heads and managers of the central departments.

At the beginning of the meeting, the Executive Director, Mr. Mawlawi Ghulam Rahman Kazim, spoke about new and practical proposals aimed at improving the effectiveness of water supply services. He also expressed gratitude and appreciation to the esteemed Office of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs for their significant efforts regarding the transfer of water from the Panjshir River.

The Executive Director highlighted the vital role of the Water Supply Corporation in meeting the citizens' needs for clean and safe drinking water and emphasized accuracy, integrity, and acceleration of work processes.

Following this, the esteemed members of the Executive Committee discussed and exchanged views on the agenda items, which included: organizing and standardizing staff job descriptions, the implementation process of planned activities, procurement challenges, commencement of the wastewater cluster construction project in Kabul city, conducting capacity-building programs, accelerating the recruitment of professional personnel, financial affairs, and addressing technical and operational issues within water supply networks.

In conclusion, comprehensive decisions were made by the committee, and necessary recommendations were issued by the company leadership.